AFGHAN GERMAN ONLINE
http://www.afghan-german.com
افغان جرمن آنلاین

مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد.

محمد انور آخړ ۲۰۲۱/۱۱/۲۲

# په ویتنام او افغانستان کې د امریکایانو جګړې

## (پرتلنه)

## شپاړسمه برخه

### افغانستان

**د ولسمشر غني ليونی تېښته، د اوزبکو سپک او ناوړه چلند او تاريخي شالید ته لنده کتنه:**

د ولسمشر غني د تېښتې پر مهال د ماسپښين، د دوه نيمو بجو شاوخوا «د ولسمشر د ساتنې قطعي رئيس په بېړه پرېکړه نيسي [وکړه]، چې ټول د چورلکو لورته لاړ شي.» څلور چورلکې د کابل له ارګ څخه په هوا شوې او مخ پر شمال د هندوکش (هندو کوه) غرونو پر لور والوتې، په دې اره، د ولسمشر غني د تېښې د يو ملګري د سترګو ليدلی حال په لنده توګه ليکو، هغه وايي:«د چورلکې د لوړولو څو دقيقې وروسته، هماغه تخنيکر [ميخانيک] زموږ خوا ته راڅي او وايي چې د چورلکې وزن زيات دی او اړتيا ده چې يو څه وزن کم کړو. د ولسمشر ځيني ساتوونکي يو [بل] ته ګوري او وروسته پرېکړه کوي چې خپل زرې واسکټونه بيرون واچوي، ترڅو د چورلکې وزن يو څه کم شي. هر زرې واسکټ پنځو نه تر شپږو کيلو وزن درلود. ما د چورلکې له کړکې وليدل چې له دوو نورو چورلکو هم زرې واسکټونه، وسلې او ځيني نور توکي وغورځول شول.»

د ولسمشر اشرف غني د تېښتې ملګري د دغه له خطره ډکې تېښتې په دوام وايي:«دا خبره هم د يادولو ده چې له امريکايي ځواکونو سره د نه همغږۍ (چې د افغانستان هوايي فضا يې تر کنټرول لاندې وه) او همدارنګه د سون توکو د کمښت له کبله چورلکو په ټيټه فضا کې الوتنه کوله. پيلوټانو د تاجکستان له مسوولانو سره اړيکه ونيوله. پيلوټان غوارې د تاجکستان په خاوره کې ښکته ناسته وکړي. تاجيک لوری ځواب نه ورکوي او دا هغه مهال دی چې د چورلکو وزن يو څه کم شوی دی او چورلکې د امو سيند پر خوا الوتنې ته دوام ورکوي. د څو نورو اړيکو د نيولو هڅو سره سره د تاجيکستان خوا ځواب نه ورکوي. همدا مهال پرېکړه وشوه چې د اوزبکستان د ترمز هوايي ډګر پر لور لاړ شو. د امو سيند پر غاړه د الوتنې پر وخت پيلوټانو د اوزبکستان له مسوولانو سره اړيکه نيسي له هغوی غوارې، د افغانستان پولې سره د ترمز هوايي ډګر کې د ښکته ناستې اجازه ورکړي. د اوزبکستان لوری هم ځواب نه ورکوي. د ډېرو هڅو سره سره اړيکه نه ټينګيږي. پيلوټان په مخابره کې اعلان کوي چې چورلکه کې د افغانستان لومړی کس دی او د ښکته ناستې اړتيا ده، بيا هم ځواب نه ترلاسه کيږي. کومه چورلکه کې چې اشرف غني ناست ؤ، د اړيکې د نه ټينګېدو ته د نه پاملرنې له کبله له بلې چورلکې سره اړيکه نيسي او وايي چې هره پېښه چې وشوه، په ترمز کې ناسته کوي، ځکه د چورلکو د سؤن توکي ختم شوي دي. په همدې ترتيب هره چورلکه يوه په بله پسې د اوزبکستان په خاوره، د ترمز هوايي ډګر کې ناسته کوي.» (۸صبح: د تلې ۱۰مه ۱۴۰۰)

راوی د ترمز په هوايي ډګر کې د اوزبک پوځيانو سپکوونکي او خواشينوونکي شېبې داسې بيانوي:«د هغو ۵۴ کسانو له ډلې چې له الوتکو ترمز کې ښکته کېږي، ۲۲ کسه يې پيلوټان، د پيلوټانو مرستهکوونکي او د هوايي قوا تخنيکران او ۲۲ نور کسان د ولسمشر ساتوونکي دي، چې يو يې هم پاسپورت نه لري. ترمز هوايي ډګر ته له ښکتهکېدو سره سم د دوو تر درې سوو اوزبک پوځي او پولهساتوونکي ځواکونه زموږ د چورلکو شاوخوا ځای پر ځای شول. ټول له خپلو وسلو سره د تيارسۍ په حالت کې ولاړ وو. موږ شاوخوا يو ساعت په خپلو چورلکو کې پاتې شوو.
څه کم يو ساعت وروسته د اشرف غني له چورلکې د هغه د ساتوونکي قطعې رئيس جنرال قاهر کوچی له چورلکې ښکته شو او بنودل يې چې وسله نه لري او د خبرو اترو تکل لري. نوموړي د اوزبک ځواکونو قوماندان خواته چې د


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په خير و لولئ

خپلو ځواکونو شاته له یوه موټر سره ولاړ ؤ، حرکت وکړ. اوزبک ځواکونو له بدني تالاشۍ وروسته نوموړي ته اجازه ورکړه چې د قوماندان خواته لاړ شي. هغوی دوې درې دقیقې خبرې وکړې او له هغې وروسته مې ولېدل چې نوموړي قوماندان د خپلې مخابرې له لارې چا سره اړیکه نیسي. اوزبک ځواکونو د تیارسئ په حالت کې د چورلکو شاوخوا موضع نیولې ده. لسو تر پنځلسو دقیقو وروسته یو توررنګه موټر له ډریور او یو بل کس سره چې ملکي جامې یې پر تن وې د اوزبک ځواکونو قوماندان خواته راغی. هغه کس چې د موټر په مخکېنۍ څوکۍ کې د ډریور خواته ناست ؤ، له موټره ښکته شو او له اوزبک قوماندان او د ولسمشر د ساتونکي قطعې له رئیس سره یې د لنډې پوښتنې وروسته د هغې چورلکې پر لور راغی چې اشرف غني په کې سپور ؤ. هغوی چورلکې ته پورته شول او دوو، درو دقیقو وروسته له اشرف غني، رولا غني او حمدالله محب سره له چورلکې راښکته شول او د هغه موټر خواته لاړل چې ملکي کس له ځان سره راوړی ؤ ... .»

دغه عیني شاهد وایي چې وروسته له هغې موږ یو په بل پسې له چورلکې راښکته شوو. اوزبک ځواکونو له څنډ پرته موږ بدني تالاشي کړو او له موږ وغوښتل شول، چې وسلې، مرمۍ، نور نظامي وسایل او خپل شخصي توکي خپل مخکې کېږدو او له هغو لرې ودرېږو. د تالاشۍ پر وخت زموږ له ډلې هغوی چې پاسپورټ یا د بل هېواد د اوسېدو سند یې درلود، لږ ورټل شول. خو زه او نور هغه کسان چې یوازې د افغانستان د هویت اسناد مو درلودل، په ډېره سپکه توګه تالاشي شوو. اوزبک ځواکونو زموږ او د ولسمشر د ساتوونکو ټول پوځي توکي واخیستل او په خپلو راوړل شویو صندوقونو کې یې ځای پر ځای کړل. هغوی له دغه کار وروسته چې زموږ د چورلکو شاوخوا ولاړ وو، چورلکو ته پورته شول او کوم توکي او تجهیزات چې پاتې وو، راوویستل... یو ساعت وروسته یې د شپې ډوډۍ راوړه. وروسته له هغې، بې له دې چې موږ ته ډوډۍ، اوبه یا بل حاجت ته د تګ اجازه راکړي، ۳۱ ساعته یې همالته ودرولو او په دې ټوله موده کې اوزبک ځواکونو خپل د ټوپک میلونه زموږ خوا ته [نیولي] وو او زموږ د ټولو حرکاتو څارنه یې کوله. هغوی موږ ته په خپل منځ کې د خبرو اجازه هم نه راکوله، هغه ۳۱ ساعته انتظار مې په ژوند کې تر ټولو ترخې شیبې وې. د خوړو لپاره مو ډوډۍ او اوبه نه درلودې. تشناب نه ؤ، سربېره پر دې له دوه سوو زیات اوزبک ځواکونه زموږ ترخوا ولاړ وو. په دې ۳۱ ساعتونو کې زموږ له ډلې هر یوه چې تشناب ته د تګ اړتیا پیدا کوله، له اوزبک ځواکونو به مو اجازه اخیسته او د چورلکې شا ته به مو ځانونه تشول. نه پوهېږم هغه کسان چې ډېر وېرېدلي ولې، تشناب ته یې د تګ اړتیا ډېره وي. په داسې حال کې چې نه مو خواړه او نه هم اوبه درلودې او زه نه پوهېدم چې په وږي نس، ولې زما ډېر ملګري په هرو پنځلسو دقیقو کې قضای حاجت ته اړتیا پیدا کوي. تر اوسه په ترمز هوایي ډګر کې زموږ درې ساعته نه وو تېر شوي، چې زموږ د ۵۰ تنو میتیازو بوی ټول ځای په سر واخیست. سره له دې هم ځواکونو محاصره کړي وو او له چورلکو د لرې کېدو اجازه یې نه راکوله. موږ چې نوي پوه شوي وو چې تښتېدلي یو او زموږ له وتلو څو ساعته وروسته ارګ د طالبانو له لوري نیول شوی دی، د اوزبک ځواکونو کړنې مو درک کولې. هغوی له یوې خوا خپلې خاورې ته له اجازې پرته ناقانونه ننه کېدو ته غبرګون ښوده، له بلې خوا د یوه مات شوي دولت له کارکوونکو سره یې سروکار درلود چې څو ساعته مخکې یې نظام، ارګ ته د طالبانو له ننوتو سره ړنګ شو. شاید موږ هغوی ته تښتېدلي او ډارن مالومېدو ... له دې ور هاخوا هېڅ اوزبک سرتیری او پوځي چارواکی زموږ پر ژبه نه پوهېدل.»

روایت کوونکی د خپلې لیکنې په پای کې لیکي:«... نیمه شپه هوا ډېره سړه شوه. هوا دومره سړه شوه چې اړ شوو همالته په ولاړه خپل لاسونه وښورو. سړه هوا د زغم وړ نه وه. ومې انګېرله چې هماغه شپه به ژوندی پاتې نه شم، شپه له ټولو کړاوونو سره پای ته ورسېده، د زمري پر ۲۵ ماښام مهال ولږې، تندې، بې‌خوبۍ او له بې‌خبرۍ سربېره د ۳۱ ساعته ناوړه بدبويۍ ټول د لېونتوب او بیچارګۍ حد ته رسولي وو. له بلې خوا د زمري میاشتې لمر چې سوزونکی ؤ، یوازې موږ نه، بلکې اوزبک ځواکونه یې هم کړول، که څه هم اوزبک ځواکونه هرو څو ساعتونو کې بدلېدل رابدلېدل، خو بیا هم هغوي په قهر ښکارېدل. ښکارېده چې سخته ګرمي او د هوایي ډګر د کانکریټي رنوې تودوخه دوچنده احساسېده، هغوی یې هم له ناوړه او بدو شرایطو سره مخ کړي وو.»

د اوزبکستان په ترمز کې دغه اړ افغانان وروسته له (۳۱) ساعتونو شکنجې څخه له هغه ځایه عربي اماراتو ته په یوه ترانسپورتي الوتکې کې پرواز کوي چې هلته یې د اوزبکانو برعکس د عربانو له خوا له ښه درناوي سره مخ کیږي.

دا ؤ د ولسمشر اشرف غني او ملګرو د تېښتې جریان چې د کابل له ارګ څخه د اوزبکستان د ترمز تر هوایي ډګر او له هغه ځایه تر عربي اماراتو پورې، د هغو دوو تنو د سترګو لیدلی حالت بیانوي چې په ارګ کې یې لوړې دندې درلودلې.

نه غواړم له اصل موضوع څخه بهر شم خو د دې لپاره چې ښاغلو لوستونکو ته څرګنده شي چې دا لومړی ځل نه دی چې اوزبکان له افغان پناه وړونکو سره دا ډول ناوړه چلند کوي، په دې بنسټ اړینه ده چې د اړونده پېښې په هکله تاریخي مالومات هم ورزیات کړم. د منځنۍ آسیا او د افغانستان په تاریخ کې داسې مغلوب پاچاهان لیدل کیږي چې وروسته له ماتېدو څخه خپلو ګاونډیو هېوادونو هند، ایران او بخارا ته یې پناوې وړي دي چې په هغو کې د لوی احمد شاه بابا زوی شاه شجاع وروسته له هغې چې له خپل میرني ورور شاه محمود څخه ماتې خوري نو د سېکانو مشر


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولــئ

رنجیت سینګ ته پناه وړي، رنجیت سینګ شاه شجاع د کوه نور الماس ترلاسه کولو په موخه هغه ناروا وي ورسره وکړي چي څوک یې له یوه میلمه او پناه وړونکي کس سره نه کوي.
رنجیت سینګ که له شاه شجاع سره سپک چلند وکړ شایي له مسلمانانو سره د هغه د کینې له کبله وي خو د رنجیت سینګ په خبر ناوړه چلند د بخارا امیر نصرالله خان چي خان یي د مسلمانانو امیر باله (او د بخارا خاوري ته د امام بخاري او ترمذي غوندي محدثین منسوب دي) له امیر دوست محمد خان او د هغه له کهول سره داسي سپک چلند ترسره شو چي له املې یې خپل تاریخ ناولی کړ.

له امیر دوست محمد خان سره د بخارا پاچا ناځوانه، له شرمه ډک چلند په اړه د هغه مهال او راوروسته تاریخ لیکونکو لاندي مالومات په لړ توپیر سره لیکلي دي چي په اړه یې میرزا عطا محمد شکارپوري داسي لیکي: «څه موده وروسته په یوه ځانګړي ناسته کي د بخارا پاچا امیر دوست محمد خان ته ځیني خبري وکړي خو امیر دوست محمد خان د تامل له مخي د بخارا پاچا د خبرو ځواب ورنه کړ خو سردار محمد اکبر خان چي د زماني یو شجاع او زړور کس ؤ، د بخارا د پاچا د خبرو زغم یي ونه کړای شو او سخت ځواب یي ورکړ. وروسته له هغي امیر دوست محمد خان او سردار محمد اکبر خان د بخارا د پاچا له درباره مالوفي (مالوفه) ته ولاړل، په دي خبر سره پاچا په قهر شو او د سردار سعید خان په مشرۍ یي دوه زره اوزبکان د دوی د نیولو په موخه ولیږل چي په لاره کي په امیر دوست محمد خان پسي په داسي حال کي ورسیدل چي له امیر سره یوازې اوه یا اته کسان مله وو، د امیر او سردار تر منځ جګړه پیل شوه چي دېرش تنه اوزبک سپاره ووژل شول او اوه تنه د امیر کسان ووژل شول، امیر دوست محمد خان او سردار محمد اکبر خان دواړه ټپیان شول او د ژورو ټپونو له کبله بېهوښه شول او په پای کي ونیول شول دواړه یي د بخارا پاچا ته ورواندي کړل او بندیان کړل. (تازه نوای معارک، ۴۰۸-۴۰۸مخونه)

په کال ۱۲۵۶ه ق کي امیر دوست محمد خان د یو تجار په مرسته چي د بندخوني ساتونکو ته یي لس زره روپۍ ورکړي وې؛ د امیر له بنده وتښتید. امیر دوست محمد خان ورواندي له تیښتي چي له بنده وتښتي سردار محمد اکبر خان ته یي وویل چي ښه به وي چي وتښتو. سردار محمد اکبر خان تیښته شرم وبلله او امیر ته یي وویل چي له تیښتي څخه د میړاني مرګ سل ځله ښه دی.

امیر یي په ځواب کي وویل:«پهلوان ژوندی وي خوشال وي.» او دا بیت یي وویلو:

**چو از سر بگذرد آب خردمند**

**نهد مادر بزیری پای فرزند**

چي وس دي نه رسیږي له هغه ځایه تیښته هم د میړنیو او لوړ همته ځوانانو کار دی.

امیر دوست محمد خان دا ډول ډېري خبري سردار محمد اکبر خان ته وکړي خو هغه ونه منله، په پای کي امیر د هغه تجار په ملګرتیا د بخارا پاچا له بنده وتښتید چي له اوږده مزل وروسته د (سبز) ښار چي [شاوخوا۵۰ میله د سمرقند په جنوب کي پروت دی.] ورسید، د ښار والي شاه مردان د امیر په رسیدو سره خوشاله شو او ښه میلمه پالنه یي وکړه. (تازه نوای معارک، ۴۴۷مخ)

دا شان ښاغلی محمد ادیب افندي داسي لیکي:«پاچا دوست محمد خان افغان له خپل اهل سره بخارا ته پنا یووړه، د هغه لپاره د بخارا له امیر ګران ګاونډی او نږدي دوست نصر الله خان پرته بل څوک ؤ؟ خو د بخارا د متکبر امیر له خوا له تکبر سره مخ شو، هره ورځ به یي ورته د بي وطنۍ پیغورونه ورکول خو هغه به زغمل، تر دي چي د بخارا پاچا د پنا وړونکي ناموس ته بده اراده وکړه، د هغه له یو غلام او ویل کېږي چي له یو زوی یي غوښتنه وکړه، غلامانو ته یي وویل چي دا [له اوښ یا آس څخه] را کوز کړئ، هغوی را کوز کړ، په دي سره مهاجر پاچا خپه شو او د دغه کار مخه یي ونیوله، خپلو زامنو ته یي امر وکړ چي د خپل هیواد لاره ونیسئ او له دي ظالم لیوه څخه وتښتئ، نو دغه خبره د بخارا پر امیر باندي سخته شوه چي ښکار یي له لاسه وتښتید، په تښتېدونکو پسي یي خپل پوځونه واچول تر دي چي د جنګ د اسیرانو په څېر یي را ستانه کړل او ټول یي سره له پاچا په زندان کي واچول. افغان پاچا دا ځل کوښښ وکړ، نو په تیښته کامیاب شو... د بخارا په شهواني امیر غوسه سخته شوه، امر یي وکړ چي د پاچا کورنی په تور کوهي کي زنداني کړئ خو د همدغه کوهي له خولې، د پاچا کوچنی زوی (سردار محمد اکبر خان) وتښتید، ویل کېږي چي د بخارا پاچا د هغه د نیولو هڅه وکړه، ځکه همدا یي مقصد و، خو د ځمکي له خېټي د ځمکي سر او بیا له بخارا څخه وطن ته په تیښته بریالی شو.... .» (محمد ادیب افندی: د ادیب خزانه ۲ ټوک)
هغه مهال چي امیر دوست محمد خان له شاه شجاع او انګریزانو څخه د افغانستان شمال (خُلم) ته وتښتید او بیا بخارا ته ولاړ، د امیر هم عصره مؤرخ، انګریز جاسوس موهن لال کشمیري په دي اړه مسلسل او په زړه پورې مالومات


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په څیر و لولئ

لیکلي دي هغه لیکي: امیر دوست محمد خان [خیل لومړی وزیر] میرزا عبدالسمیع خان بخارا ته ولیږه چي د بخارا له پاچا څخه په بلخ کي د خپلي استوګني اجازه ترلاسه کړي، د بخارا پاچا امیر ته پیغام ولیږه چي بخارا ته ورشي، د بخارا پاچا پیغام داسي ؤ چي د کندوز او خلم واکمنان، یا د بلخ ښار عایدات د امیر د کورنی او ملو کسانو لګښتونه، نه شي پوره کولی نو که امیر بخارا ته راشي، نه یوازي دا چي په درناوي سره به ښه راغلاست ورته وویل شي بلکي پوخګي مرسته به هم ورسره وکړي ترڅو خیل هېواد بیا ترلاسه کړي.

... په دي اړه امیر له خپلو کسانو سره مشوره وکړه، سردار محمد اکبر خان د امیر زوی، د تېر په څېر خیل پلار ته وویل چي پارس [ایران] ته ولاړ شي خو نورو بخارا ته د تګ نظر ورکړ ... میرزا سمیع خان د [بخارا د یو تن لوړ پوړي چارواکي] نایب عبدالصمد خان له خولي وایي چي د بخارا پاچا د افغانانو په ژمنو او صداقت تر هغي پوري باور نه لري تر څو چي له خپلي کورنی سره بخارا ته نه وي تللي ... په پای کي امیر دوست محمد خان بخارا ته د تګ پرېکړه وکړه. (موهن لال کشمیری: زنده گی امیر دوست محمد خان، امیر کابل، ۲ توک، ژباړن: پروفیسور ډاکټر سید خلیل الله هاشمیان، ۲۱۳مخ)

امیر دوست محمد خان بخارا ته په رسیدو مخامخ د بخارا پاچا سره ولیدل، په هغه ودانی کي ځای پرځای شو چي له وړاندي د ده لپاره په نښه شوي وه، لومړی ینځه ورځي د پاچا له پخلنځي څخه افغان میلمنو ته خواړه ورکول کیدل خو په شپږمه ورځ د بخارا پاچا امیر ته خپل استازی ولیږه چي خپلي اړتیاوي ښکاره کړي، ترڅو د امکاناتو په ترڅ کي ترسره شي.

دوست محمد خان د بخارا پاچا ته پیغام ولیږه چي له پاچا نور څه نه غواړي یوازي له اعلیحضرت څخه د خپل سلطنت په بیا لاس ته راوړلو کي مرسته غواړي چي د اسلام دښمنانو تري غصب کړی دی.

د بخارا پاچا امیر ته ځواب ولیږه چي اوس مهال آرام ته اړتیا لري ځکه چي ژمی را روان دی نو ښه به وي چي امیر خپل (۲۰۰) تنه له ځان سره وساتي او نور پاتي کسان په کوچنیو ډلو وویشل شي او په هغو کلیو کي ځای پرځای شي چي په نظر کي نیول شوي دي ... او راتلونکي اوړي ته به د امیر په غوښتنه باندي غور وشي... د پاچا استازي امیر ته د پاچا دا خبر هم ورکړ چي ژرتر ژره دي خپله کورنی بخارا ته راوغواړي.

د بخارا پاچا د دا ډول غوښتنو له امله د امیر دوست محمد خان ټول ملګري راټول شول، امیر وویل که د بخارا پاچا دغه غوښتني عملي شي نو له خطره ډکي دي، افغانانو وویل دا چي په یو پردي هېواد کي استوګن یو او د پردي هېواد په لاس کي یو، ښه به وي چي د کوربه په هدایت عمل وشي. هغه مهال چي امیر دي ته چمتو شوی ؤ، د بخارا پاچا غوښتني ومني، قاضي بدرالدین د امیر حضور ته حاضر شو، د بخارا د پاچا د پیغام له اوریدو او د افغانانو د شورا له پرېکړي وروسته، نوموړي قاضي امیر ته اخطار ورکړ چي که د بخارا د پاچا د غوښتنو سره سم عمل وکړي، تباهی او رسوایی به رامنځ ته شي، دا چي د امیر کورنی د اوزبکانو لاس ته ورشي او نور افغانان په کوچنیو ډلو وویشل شي او له ده څخه لیري کلیو ته ولیږل شي، افغانان به له قزلباشانو څخه هم په ناوړه توګه د اوزبکو غلامان او مینځي شي.

امیر د قاضي بدرالدین پرځای مشوره ومنله او د بخارا پاچا ته یي پیغام ولیږه چي هغه په دي هیله بخارا ته راغلی دی چي ښه ژوند ولري، که اعلیحضرت پاچا خپل شاهانه مهربانی په افغانانو باندي ولوروي چي زموږ غوښتنه دا ده: که د آمو سیند ها خوا د بلخ سره نږدي یوه اندازه زراعتي ځمکه موږ ته راکړل شي چي د خپلي کورنی او ملګرو نفقه د کرني څخه لاس ته راوړو. پرته له دي موږ ته دي اجازه راکړل شي چي د حج د ادا کولو په موخه بیت الله شریف ته ولاړ شو.

د بخارا پاچا امیر ته داسي ځواب ولیږه: دا چي تاسي په بخارا کي پناغوښتونکي [او مهاجرین] یاست، ښه به وي چي د پاچا د هدایت سره سم عمل وکړئ، که هغه [امیر] ټینګار کوي چي رخصت شي، آزاد دی هری خوا چي ځي ولاړ دي شي.

افغانانو د مکي پر لور د سفر چمتو والی ونیوه خو د پاچا له خوا یو شمېر اوزبکان وګمارل شول چي د دوی د کړنو څارنه وکړي او ژر تر ژره دي د بخارا له ښاره وایستل شي. افغانانو د سفر لومړی شپه د بخارا د ښار په بېدیا کي په خپلو خیمو کي تېره کړه خو سبا ګهیځ یوه ډله وسله وال اوزبکان راورسیدل او امیر ته یي وویل چي خپلي خیمي ټولي کړي، ژر ترژره دي د چارجو د لاري پر ځای د خېوې پر لاره ولاړ شي.

دغه پیغام افغانان اندېښمن او سرګرځه کړل، امیر خپل زوی، محمد افضل خان او عبدالغني خان د پاچا د ښېني په موخه ولیږل، تر څو پاچا ته ووایي چي که د خېوې پر لاره ولاړ شي نو په هغه بي اوبو دښته کي به یو هم ژوندی پاتي نه شو، دا چي د پاچا امر نه دی منل شوی ښېنه غواړي، هیله ده اعلیحضرت ښېنه وکړي.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکي په ځیر و لولئ

وروسته له دې د بخارا پاچا افغانانو ته اجازه ورکړه چې د بخارا ښار ته بیا ستانه شي خو دا ځلي د پخوا په څېر د میلمه پالنې هېڅ اثر نه ؤ. (هماغه کتاب، ۲۱۴- ۲۱۵مخونه)
هغه پخواني خواړه چې د شاهي پخلنځي څخه امیر ته ورکول کېدل بند شول، یوازې یوه اندازه نغدې پیسې د امیر د لګښت لپاره ورکول کېدلې.
امیر دوست محمد خان د بخارا د پاچا د پخلا او خوشحالولو په موخه دوه آسونه، لس قبضې اعلی توري او څو ستاوې (پیشقبضې) د خپل زوی محمد امین خان په لاس د ډالي په توګه امیرالمومنین(؟) ته ولیږلې، (بخارایانو د بخارا پاچا امیرالمومنین باله.)
په بدل کې د بخارا پاچا پنځه مجمه (پتنوسه) شاهي لوړ بیه کالي امیر ته واستول او سپارښتنه یې وکړه چې امیر دې خپل زوی محمد افضل خان خلم ته د خپلې کورنۍ د راوستلو لپاره ولیږي.
محمد اکبر خان بخارا ته د خپلې کورنۍ راوستل او خلم ته د خپل مشر ورور استولو سره مخالفت وکړ. د بخارا پاچا ټینګار کاوه چې د امیر یو باوري کس دې د هغه د کورنۍ د راوستلو په موخه ولېږل شي. د بخارا د پاچا دا ډول امر ټول افغانان په اندېښنه کې واچول.
هغه وو چې سردار محمد اکبر خان له خپلو ورونو سره وروسته له مشورې تصمیم ونیو چې په پټه د سبز ښار پر لور وتښتي خو کله چې امیر د خپلو زامنو له تېښتې خبر شو، ژر یې د بخارا پاچا ته خبر ورکړ چې هغوی بخارا ته راستانه کړي.
د بخارا پاچا د خپل هېواد پوله ساتونکو ځواکونو ته امر وکړ چې د امیر زامن ونیسي.
له بل پلو د امیر زامنو لاره خطا کړې وه د سبز ښار پر ځای د قارشي [ښار] ته رسیدلي وو، له ښاره بېدیا له دوو تنو شپنو سره مخ شول له هغوی یې د لارې موندلو مرسته وغوښته، یو تن شپون له دوی سره د لارښود په نوم روان شو، بل شپون د قارشي حاکم، نور محمد بای ته خبر ورکړ. نور محمد بای د( چراغ چي) له حاکم سره د درو سوو سپرو عسکرو سره د امیر د زامنو پسې ورغلل او هغوی یې د سبز ښار سره نږدې ایسار (محاصره) کړل، نور محمد بای د امیر زامنو ته وویل چې دوی د بخارا د پاچا له اجازې پرته تښتېدلي دي چې د بخارا د سلطنت مقام ته مو سپکاوی کړی دی او د خپل پلار عزت او باور مو تیټ کړی دی چې تر اوسه د بخارا د امیر سره پناه اخیستونکی دی، ښه به دا وي چې ژر تر ژره بخارا ته ستانه شئ.
سرداد محمد اکبر خان او ورونو یې له نور محمد بیک سره ژمنه وکړه چې له ده سره به یو ځای بخارا ته درومي، په دې شرط چې یوه شپه دمه او خوب وکړي چې ډېر ستړي او ستومانه دي. نورمحمد د دوی غوښتنه ومنله د امیر زامنو او ملګرو یې په شپه کې د جګړې کولو پرېکړه وکړه، ګهیځ وختي مهال وسله وال شول، په خپلو آسونو سپاره او د اوزبکو د عسکرو پر لیکه یې یرغل وکړ، سخته جګړه ونښته او یو شمېر اوزبکان ووژل شول، افغانان تر هغې وجګړیدل چې ستړي او بې ځواکه شول او هم یې وسله خلاصه شوه نو دا مهال اوزبکو پر افغانانو برید وکړ، پنځلس تنه افغان سرتیري د سمندر خان په ګډون ووژل. (هماغه کتاب، ۲۱۶مخ)
سردار محمد اکبر خان او پاتې نور کسان ونیول شول، وسله او آسونه ترې واخیستل شول، د قارشي حاکم د بخارا پاچا د امر سره سم ټول نیول شوي اسیران بخارا ته ولېږل، د بخارا پاچا اسیران وبنل امر یې وکړ چې له خپل پلار سره پاتې شي. (هماغه، ۲۱۷مخ)
نېټه: ۱۴۰۰/۸/۲۹ل. ل
نور بیا


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولـئ